پوهاند بشیر احمد زکریا ۲۰۱۹/۰۵/۰۲

# د افغانستان دائمی بیطرفی

## خـبـرنیزه رساله

لیکوال: بشیر احمد زکریا – مترجم: رحمت آریا

**پنځمه برخه**



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

که افغان مشران ماهر ډیپلوماتان او افغانان زړور جنګیالي نـهٔ وای، د خپلواک افغانستان لمنه به لا ډېر پخوا ټوله سوې وای.[۱] پرته له دې چې دلته د لرغوني افغانستان د بډای تأریخ په باب مکث وکړو، ښه ده چې الکسندر په یاد راولو چې د خپل عصر د امپراتورۍ د خورا پیاوړي او پرمختللي پوځي ماشین په لرلو سره په دې هېـواد کې له کوم برخلیک سره مخامخ سو. «فرانک ل. هلوت *Frank L. Holt*» د خپل د ۲۰۰۵ ز کال په لومړي او د ۲۰۱۲ز کال په دویم چاپ کتاب «د هډوکو په ټاټوبي: الکسندر په افغانستان کې Into the Land of Bones; Alexander the Great in Afghanistan» لیکي: «د لرغونو زمانو له ډېرو پخوا وختونو راهیسي د ستر الکسندر برخلیک په دې هېـواد کې انګازې خپروي او موږ ته په ډاګه وايي چې د کړاونو په دې ټاټوبي کې به د امریکا تکل هم د آزمایښت په بټۍ کې راګیر پاتې سي؛ اوولس کاله تیر سول، خو جګړې لا تر اوسه پای نـهٔ دی موندلی. پوهاند هولت پر افغانستان باندې د الکسندر لښکري برید، په ۱۸۳۸ او ۱۸۷۸ز کلونو کې د انګلو – افغان لومړۍ او دویمه جګړه، د ۱۹۷۹- ۱۹۸۹ز کلونو تر منځ د شوروي جګړه او له ۲۰۰۱ تر ۲۰۱۷ز کال پورې د امریکا جګړه له یو بل سره پرتله کړې او د تیریګرو د کړوورو او د تیریګرو پر وړاندې د افغانستان د پرګنو هماغه یو شان غبرګون په باب ئـې حیرتناکه شننه وړاندې کړې ده.[۲]

په ۳۳۱م.ز کال کې الکسندر د هخامنشي ستراوکي چې د دریيم داریوش تر واکمنۍ لاندې وه په «ګنګه میله Gaugamela» کې «په عراقي کردستان کې د ضحاک ښار ته نـېږدې – ژباړونکی» دړې وړې کړه؛ وروسته د دریيم داریوش د دوه وو جنرالانو «بیسس *Bessus*» او «ستی برزینس *Satibarzanes*» په نیولو پسې راغی، ددغو دوه وو جنرالانو د تعقیب لړۍ د الکسندر پښه په ۳۲۵ م. ز. کال کې د افغانستان – د باکتریا لور ته راوکاږله. که الکسندر وکولای سول د دوه وو کلونو په ترڅ کې د مصر په ګډون ټول منځنی ختیځ د سترګو په رپ کې تسخیر کړي خو د باختري قومونو پر وړاندې د دریو کالو لپاره په سختي لالهاندۍ او کړاو کې راګیر پاتې سو. له دغو قومونو سره اوږدې جګړې، د الکسندر نـهٔ ماتېدونکی لښکر داسي سترۍ ستومانه کړ چې د چا خبره تر وروستۍ سلګۍ پورې ئـې راووست؛ ان تر دې چې په خپله الکسندر ئـې بې حده کسورۍ، ناتوانه او مات کړ او بله ئـې لا دا چې ددهٔ خپل نـېږدې راویان وايي چې الکسندر په دغو جګړو کې خپل عقل له لاسه ورکړ. د بېلګي په توګه په دې موده کې الکسندر خپل تر ټولو نـېږدې دوست او مرستیال «فیلوتس *Philotas*» د دسیسي په تور او شک ووژهٔ، خو همدې وژني الکسندر اړ کړ چې بل قتل هم وکړي یعنی خپل زښت ډېر متجرب او پالیاله/ وفاداره جنرال «پر

---

۱ - Cronin, A.K. A Sustainable Approach to Afghanistan: Neutralization. Chapter ۱۳, p. ۳۷۵. Sustainable Security: Rethinking American National Security Strategy; Oxford University Press: ٤۰۷ pages. December ۲۰۱٦.

۲ - Holt, F.L. Into the Land of Bones; Alexander the Great in Afghanistan. University of California Press Ltd. ; Berkeley, Los Angeles, London: p. XV. ۲۰۰٥-٦ and ۲۰۱۲ by The Regents of University of California.

مینین *Parmenion*» چې د فیلوټس پلار وو، ووژني. په زړهٔ پورې ئـې لا دا چې الکسندر په خپله خپل ډېر ګران او نـېږدې ملګرى چې ددهٔ ژوند ئـې په ۳۳۴م. ز. کال کې د «ګرانیکس Granicus River – د سیند پر غاړه» ژغورلى وو، وواژهٔ «دا سیند د معاصرې تورکیې په چناق قلعه کې موقعیت لري ژباړونکی». دغه جګړه « د تروی – Troy – معاصرې تورکیې – اناتولیې» د نږېدلې ښار په کنډوالو کې رامنځته سوه، الکسندر چې زغره واله خولۍ ئـې پر سر وه د جګړې په لړ کې یو فارسي شهزادګي پر سر په تبر وواهـهٔ چې د الکسندر سر په ګرځـېدو سو، په دې اثنا کې بل فارسي شهزادګی رانـېږدې سو او غوښتل ئـې د شا له لورې پر ستړواک الکسندر راودانګي او سر ئـې له تنې څخه بېل کړي چې یو ناڅاپه د الکسندر زړور او له سره تیر ملګرى «کلیتس *Cleitus*» راغی او د سترګو په رپ کې ئـې د فارسي مهاجم اوږد سوى لاس په هوا کې له بیخه پریک کړ؛ الکسندر تر دې دمه د راغلي ضربې له کبله واګڼ/ ګیچ وو او په رېږدېدلو پښو ورو ورو شا ته کـېدهٔ.

الکسندر په مصر کې وو، هلته دهٔ ته په «اورکل oracle» کې «الهام وسو» چې «نعوذ بالله من ذلک ــژ» د «خدايي مرتبه» لري، له دې نیتې وروسته الکسندر په ځانګړې ډول په باختریا «افغانستان» کې د خپل یرغل پرمهال په پرله پسې ډول په عقلي اختلال یا پارانویا او توهم اخته وو او د اپلاتو ویلو نښې ئـې له ځانه څرګندولې. د الکسندر یو جنرال چې ددهٔ وارث او ځایناستی وو «پلوتارک *Plutarch*» وو، پلوتاریک د خپل استدلال په لړ کې وایي، «الکسندر داسي څوک نـهٔ وو چې ستړې او ستومانه سي او یا د لښکر له سپهسالارۍ څخه لاس پر سر سي، نوموړي به ښارونه کلابند کړل، د اله ګولو او پاڅونونو په درې وړې کولو پسې به روان وو، مخالف غورځنګوال به ئـې شړل، او اله ګولي به ئـې درې وړې کړلې، د باکترا «بلخ»، مَرَکندې «Maracanda » (یعنی مزار) او سغدیاني «سمرقند» په خائـنو سردارانو پسې به تل داسي لالهانده وو ته به وایې چې غوښتل ئـې د «هایدرا hydra – په یوناني اساطیرو کې یو نهه سرى مار – ژ» سرونه پریک کړي، خو دا سرونه به بیا له یوهٔ بل ګوټ څخه په دوه ځله نور پریړوالي راپورته سول. [۳]»

کله چې الکسندر له بې شمیره ستونزو سره مخامخ سو نو په چار چلند کې ئـې د متمدنتوب او ستروالي ځانګړتیاوې له یوې مخې ورکې سوې او ځاى ئـې ناکامۍ، غچ، غضب او قهر ونیو؛ همدا حالت ددې لامل سو چې جنګي جنایاتو ته لاس واچوي، د ماشومانو، ښځو او بوډاګانو سرونه ئـې له توپیر پرته پریک کړل او په ځینو ځایونو کې ان جنوساید وکړ. الکسندر نـهٔ سواى کولاى خپله ماته د «وحشي بربرانو» په لاس او د افغانستان په شان یوهٔ بې وزلې او لیرې پراتـهٔ هـېواد کې پر ځان ومني. خو له دې ټولو سره سره په افغانستان کې د الکسندر په وروستیو ورځو کې ددهٔ له خولې روایت سوى چې: «زه د زړه ورو او زمریو په ټاټوبي کې داسي راګیر پاتې یم چې هر ګام ئـې د یوې پولادي ځاه په شان زما د سرتیرو پر وړاندې خنډ دى. تاسو «یونانیانو» دې نړۍ ته یوازې یو الکسندر راوړى دى، خو دلته په دې ټاټوبي کې هر یو ئـې ځان الکسندر بولي. [٤]»

---

٣ - Plutarch: Symposiacs, in The Complete works of Plutarch: essays and miscellaneous. Crowell Pub. New York Vol-VI, ١٩٠٩.

٤ - Historiae Alexandri Magni (Histories of Alexander the Great) Book by Quintus Curtius Rufus, ٢٠٠٥.

فرانک ل. هولت *Frank L. Holt* په خپل کتاب «ستر الکسندر په افغانستان کي Alexander the Great in Afghanistan» مني چي... «په افغانستان باندي تحمیل شوي جګړي .... لکه د الکسندر، برتانویانو، شوروي اتحاد او اوس د امریکا د متحدو ایالاتو جګړي له ځان سره داسي ښکاره او برجسته علائم لري چي شګون به ئـي په راتلونکي کي ښـهٔ نـهٔ وي.[٥]» نوموړی د استدلال په ژبه وایي : سره له دې چي په لومړیو کي ددغو تیریو بهیر سم پر مخ ځي خو «تر اوسه هیڅ زبر ځواک په دې نـهٔ دی توانیدلی چي داسي یو عملي بدیل ورته وومومي چي د افغانستان ورانیو ویجاړیو ته ئـي یوه درملګره نسخه وبولو.» دی وایي :

د سیمي د تسخیر او کنترول لپاره د مهال او سرچینو اټکل
١- ټولي اټکلیزي شمیري یا تخمینونه باید دوه ځله نور زیاتي سي
٢- تکرار، د اړتیا له مخي

پوهاند هولت د خپل استدلال په دوام زیاتوي چي : «کله چي پښه ئـي په پلنډۍ یا باتلاق کي راګیر سي او هغـهٔ حالت ته ورسـېږي چي پوه سي نور ئـي د ګټلو چانس نـهٔ سته، هڅه کوي چي خپل تلفات د وتلو یا د خروج د دوه ستراتیژیو له لاري پای ته ورسوي :

١- له بې شمیرو تلفاتو سره یوځای شاته تګ، داهماغه کاردی چي «الکسندر- لیکوال»، برتانویانو او شورویانو وکړ
٢ – په سیمه کي د تل لپاره د نیواکګر ځواک ځای پرځای کول، هماغسي چي الکسندر وکړل

پوهاند هولت ددغو خبرو په دوام د خپل کتاب په بل ځای کي زیاتوي، « نن موږ «امریکایان- ژ» په هغـهٔ ټکي کي یو.... چي په ١٩٨٠ز کي شورویان، په ١٨٣٩ز او ١٨٧٩ز کي برتانویان او یونیان او مقدونیان په ٣٢٩م.ز کي ول.» په زړهٔ پوري دا چي نوموړی زیاتوي چي د روسانو د ٣٠٠ کالو راټولو شویو تجربو ته په کتني ... شورویانو «د مسلمانانو د ټاټوبیو د بریالیو نیولو او د سیمه ییز مقاومت د تس نس کولو لپاره لاندني مخکي له مخکي شرایط په څرګنده ټاکلي ول :

١ – د سیمي اغېـزمنه ګوښي کول
٢ – د سیمه ییز مشرتابـهٔ له منځه وړل په ځانګړي ډول د هغي وړتیا له منځه وړل چي دوی ته د یوموټي توب او یووالی توان ورکوي
٣ – د هر ډول مقاومت د مخنیوي لپاره د ولسي ملاتړ ملا ماتول چي د سیمه ییزو، ټولنیزو او اقتصادي بنسټونو په له منځه وړلو سره تر لاسه کیدای سي.[٦]»

الکسندر په ٢٨٧م . ز. کال کي شپږ دېرش «په بل روایت ٣٣ کلن» وو؛ دغه مهال نوموړی ستړی او ناتوانه سوی وو، د زښت ډېر لیونتوب له لاسه ئـي پر ځان «مقدونیانو او یونانیانو» داړ له لاسه ورکړی وو؛ دغـهٔ حالت ته په کتلو

---

٥ - Holt, Frank L. Into the Land of Bones, Alexander The Great In Afghanistan. Forward by Peter Green; University of California Press; Berkley, Los Angeles, London: pp. ١٨-١٩. ٢٠١٢.

٦ - Ditto. Holt, Frank, L. p. ١٠٦. ٢٠١٢

الکسندر د خپل بيرته تګ لاره د بلوڅستان او فارس د سمندري څنډو له لاري لنډه کړه او ځان ئـي بابيليون ته ورساوۀ؛ ددۀ مرګ وکولای سول چي ددۀ په لښکري بريدونو او ولس آزاره سياست باندي د پای ټکی کښېږدي.

له دومره جګړو وروسته، ستړي ستومانه او په زړۀ مات الکسندرغوښتل بېرته خپل ټاټوبي مقدونيي ته لاړ سي. الکسندر په بابيليون کي د « دويم نبوکد نزر Nebuchadnezzar II» په ماڼی کي وو چي هېواد ته د ستنېدلو چمتو والی ئـي نيوۀ؛ الکسندر له خپل سمندري آدميرال «نيرکس *Nearchus* » سره په خبرو بوخت وو، کله به ئـي پوښتل چي څنګه کولای سو آسيا او افريقا دواړه د يوۀ ګڼ نژادي او ګڼ فرهنګي تمدن په لمن کي سره يو ځای کړو. د «دايا دورس *Diadorus* » د روايت له مخي الکسندر د يوۀ غير مخلوط شربت له څښلو وروسته ناروغ سو ان تر دي چي نور له خبرو پاتي سو. سرتيري ئـي په لړ ځنډ کي د خپل مشر د مرګ په باب ترهوري سول، له همدې کبله ول چي سرتيرو ته اجازه ورکړل سوه چي په کتار کي سره ودرېږي او يو يو دې د الکسندر له مخي تير سي، الکسندر هر يوۀ ته په چوپه خوله په ناهيلی لاس پورته کاوۀ او خدای په اماني ئـي ورسره کوله.
د نړۍ تأريخ له پيله تر ننه ښودلي چي «برخليک جوړونکی انسان» خپل تأريخ په خپله جوړوي او ماتوي ئـي
خو کله چي د مهال او زمان د تلي شاهين د آسمان د تشيال په ناپايه تورتم کي په خوځښت راسي
هغه مهال نو نـۀ بل چانس «برخليک» او نــۀ کوم بخت چا ته توپير جوړولای سي. (بشير احمد زکريا)

د پنځمه برخه پای

نور بيا

## تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با "کلیکی" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به "آرشیف" شان رهنمائی شوند.

د دی لیکنی د لمړی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لینک» باندی، «کلیک» کړی
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_١.pdf
د دی لیکنی د دویمی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لینک» باندی، «کلیک» کړی
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٢.pdf
د دی لیکنی د دریمی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لینک» باندی، «کلیک» کړی
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٣.pdf
د دی لیکنی د څلورمی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لینک» باندی، «کلیک» کړی
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٤.pdf

د افغانستان دائمی بیطرفی (پنځمه برخه)
zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٥.pdf